

صيام الدين « پسرلی »
د نشر نيټه : ۸ نوامبر ۲۰۱۲ ميلادی

# د بشري حقونو اوسنی وضعيت د ژورنالستانو له انده







نن چهار شنبه د۲۰۱۲ کال دنومبر ۷مه نيټه دافغانستان دبشري حقونو دخپلواک کميسيون استازي دميديوتيک افغانستان ننګرهار رسنيز کور په تخنيکي او مسلکي مرسته د ختيځ زون له ۲۶ تنو فعالو خبرياالانو سره غونډه وکړه.
د غونډې په پيل کې د غونډې په موضوعاتو دبشري حقونو دخپلواک کميسيون استازی نجيب الله ببرکزی خبرې وکړي ده پخپله وينا کې د غونډې اجند تشريح کړه او وې ويل:
( د بشري حقونو اداره ددې صلاحيت لري، چې حکومت ته اصلاحی وړانديز وکړي او پرې فشار وارد کړي، موږ د توازن د ساتلو لپاره ضرورت لرو، چې تاسو د ازادي رسنيو په توګه موږ ته د ټولنې رښتينی انځور وړاندې کړئ، چې په اوسنی وضعيت کې بشري حقونه ځنګه او په کوم شکل روانه ده، د بهبود خواته او که د زوال خواته روانه ده، دوه کال وروسته به ځنګه وي، ايا دغه حقوق به په همدغه شکل وي، پرمختګ به کړی وي او يا وروسته به پاتي وي.؟)





نومورې د مشخصو پوښتنو په شکل لاندې پوښتنې وکړې.

1 .ستاسو (رسنۍ) لاس رسی معلوماتو ته څنګه ده؟
2 .کوم ژورنالست تر اوسه تهدید شوي او که نه؟
3 .ایا داسې رسنۍ شته چې په فعالیت پیل کړی وي او اوس بند شوي وي، که وي نو د بندیدو لامل په څه وي؟
4 .د خویندو حضور په رسنیو کې څنګه ده، ایا دوي کولای شي چې رسنیو کې ګډون وکړي، رپورټ جوړ کړي او نشر یې کړي.؟
5 .شخصی رسنۍ څنګه خپل مالي ضروریات پوره کوي.؟
6 .د رسنیو ثبت او راجستر پروسه څنګه ده.؟
7 .ایا د ننګرهار په لرې پرتو سیمو او ولسوالیو کې راډیوګاني شته چې نشرات ولري.؟
8 .حکومتي چارواکي څومره له تاسو څخه ملاتړ کوي.؟
9 .په مجموعه کې د ژورنالیزم وضعیت څنګه ارزوئ.؟

دغه پوښتنې د کل په شکل له ټولو ګډونوالو څخه وې، چې هر یو پخپل وار پوښتنو ته ځوابونه وویل.

بازمحمد عابد، په ختیز زون کې د مشال راډیو خبریال وویل:
( له رسنیو سره دولتي چارواکي هیڅ همکاري نه کوي، بلکې هغه وخت مرسته کوي، چې د دوي په ګټه وي، ډېر وخت زموږ پوښتنو ته په وخت ځواب نه ورکوي.
د ژورنالستانو تهدید هم شته ډېری ژورنالستان د تیلیفون له لارې تهدید شوي او هم اخطارونه ورته ورکول کیږي.؟)
ق
رار عزیزي د صفا راډیو مسوول د رسنیو ستونزي د افغانستان په سطحه ډېرې وښودې او وویل:
( رسنیو ته جواز جوړول او بیا د هغې تمدیدول یو له لویو ستونزو څخه دی، په دولتي اداراتو کې د فساد له امله د جواز جوړولو موده ۳ الا ۴ میاشتو ته غزیږي. د ژورنالستانو تهدیدول، وهل او ټکولو موضوع هم تائید کړ او زیاته کړه چې داخلي چارواکي ټول په فافیایی چارو اخته دي.)






**هجرت الله اختیار په ننګرهار ولایت کې د AWPR اداري مسوول وويل: ( دلته د بیان ازادي شته خو د نظام غوړونه کانه دي.)**

**د کليد راډيو د خبرى څانګې مسوول خير الله خيال پخپل خبرو کې ژورنالېستان پره بلل او ويل يې چې له ورې خبرې لويه جوړوى، خپل منځي اختلافات او بې اتفاقى يې پرمخ د ستونزو زيږېدو باعث شوى دى.**

**مسعود حقمل د ننګرهار ملي راډيو خبريال هم د خبريالانو وهل او ټکول تائيد کړه او دبيلګې په توګه څو ژوندي مثالونه ورکړل، وريسي عبدالمعيد هاشمي په ختيځه سيمه کې د پژواک خبرى اژانس پخوانى خبريال بيا په افغانستان کې ترټولو لوی کواښ د بيان ازادي لپاره د بشري حقونو اداره، يوناما او ځينى استخباراتي کړى وښود، چې ډېر وخت دغه ادارې، رسنى نه پرېږدي چې دوى حقايق ووايي، ده زياته کړه نن زه ددغو استخباراتي کړيو له لاسه په کور کې ناست يم او نه شم کولاى چې خپلې دندې ته ادامه ورکړم.**

**دلته ژورنالست ګواښل کيږي، وهل کيږي او حتى وژل کيږي چې د بيلګې په توګه جعفر وفا او جان الله هاشمزاده يې وښود چې په ډېر بې رحمانه ډول وژل شوي دي.؟**

**د غونډې په اوږو کې نورو ګډونوالو هم خپل نظريات ورکړل چې د بشري حقونو اداري د استازو له خوا دوي ته ډاډ ورکړل شو چې د دوي غږ به حکومتي چارواکو او نړيوالو ته رسوي.**

**د پروګرام په پاى کې د ننګرهار رسنيزو کور په نمايندګي صيام الدين « پسرلي » د ټولو راغلو ژونالستانو او د بشري حقونو له استازو څخه مننه وکړه او زياته کړه چې ننګرهار ميديوتيک (رسنيز کور) د بشري حقونو اداري سره ډېر ښه او دوستانه اړيکي لري، دا ډول ګډ پروګرامونه دوي پخوا هم تر سره کړي دي.**

**ننګرهار رسنيز کور**

**بازګشت به صفحه اصلى – [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)**